دَ ماشومانو دَ پاره لیکلې شوی خوندور نظمونه

# نظمونه دَ پښتو

لیکوال

مولانا احمدعلی مردانی

ناشر

اسلامي ادبي ټولنه

یونیورسټی روډ مردان

03129818511

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بسم اللّٰه الرحمٰن الرحیم

# وصلی اللّٰه تعالیٰ علی النبی الامّی

## حمد باری تعالیٰ

په کتاب کښي چي ليکلي دَ چا حمد وي
خامخا هغي کتاب کښي مزه خوند وي
دَ اللّٰه تعريف کوُل ښه عبادت دے
دَ اللّٰه تعريف کوُل دَ زړه راحت دے
وسوسي غلط خيالات ورسره بند وي
په کتاب کښي چي ليکلي دَ چا حمد وي
دَ نيکو يو سلسله بيا راشوروشي
دَ مزو يو سلسله بيا راشوروشي
يريو تپکي سَم شيرين لکه دَ قند وي
په کتاب کښي چي ليکلي دَ چا حمد وي
دَ کمال درجي ته رسي بيا کتاب
دَ کمال درجي ته رسي بيا ثواب
مرتبه دَ هغه چا به تل بلند وي
په کتاب کښي چي ليکلي دَ چا حمد وي

چې حضور ﷺ ئې راهنما وي
زړۀ کښې بیا سکون رڼا وي
دَ سنت نه چې خبر وي
ښه په دین چې برابر وي
خامخا هغه اعلا وي
زړۀ کښې بیا سکون رڼا وي
دَ اصحابو قدردان وي
کلك احمده! په ایمان وي
دا عاقله وي، دانا وي
زړۀ کښې بیا سکون رڼا وي

....................................

## موسمونه

موسمونه ښکلي ښکلي
ټول څلور زمونږ دَ کلي
یو سپرلي دے بل خزان دے
یو چې راشي بل روان دے
دوی یو ځائې نشو دُنیا کښې
هیڅ کله هم په خطا کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ هر چا کتاب په دي عمل خائسته وی
دَ محشر دَ پاره ښه دا ذخیره وی
چي ددي عمل دُنیا کښي څوك پابند وی
په کتاب کښي چي ليکلي دَ چا حمد وی
دَ جنت به مستحق په دي عمل شی
خوشبودار په دي عمل به هر محل شی
چي دا کار کوی احمده ! عقلمند وی
په کتاب کښي چي ليکلي دَ چا حمد وی

.....................................

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

چي تعريف دَ مصطفیٰ ﷺ وی
زړۀ کښي بيا سکون رښا وی
نه څۀ غم وی بيا په زړۀ کښي
نه تورتم وی بيا په زړۀ کښي
دَ هغۀ په تن ښکلا وی
زړۀ کښي بيا سکون رښا وی
په حق تلل ورته اسان شی
چي مئين څوك په قران شی

ناشر: اسلامي ادبي ټولنه مردان 0312-9818511

هر موسم کښې خپل کمال دے
سوچ دَ حال او استقبال دے

داسې ژوند رو رو تیرېږی
داسې عمر ژوند کمیږی

لږ عبرت له دې نه واخله
نصیحت له دې نه واخله

ستا دَ ژوند دی موسمونه
درنه تیرېږیر کلونه

نور بیدار شه په حق لار شه
اے احمده ! خبردار شه

.....................................

## غریب سره امداد .......فطرانه/ سرسایه

غریب له مستحق له سرسایه ورکړۀ اختر کښې
زمونږ نه چې هیر نشی دا غریب په لر او بر کښې

ددۀ سره امداد او لاس پکار دے پوره کال
هر څوك دې تپوس اُوکړی تل ددۀ نه ددۀ حال

پکاردی ورله ورکړے چې ستا اُودرېږی په ور کښې
زمونږ نه چې هیر نشی دا غریب په لر او بر کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



غـنـي ، سـخـت دۀ خـوراك دے
پـه وجـود سـره تپك تپـاك دے
تـل ئـي سـخـتـه دښـمـنـي ده
اوس دَ هـر انسـان مـرضـي ده
قـربـانـي کښې دا حـلال دے
مسـلـمـان لـره هـر کـال دے
دا سـاتـونـکـي ځـنـاور دے
تيـز لـرونـکـي دې نـظـر دے
دا احـمـده ! پـه صـحـرا کښـې
ښـه مـلـګـري پـه دُنيـا کښـې

.....................................

## اَس

اَس سـورلـي ده ښـۀ دَ کـار
ډيـر پـه زمـکـه تيـز رفتـار
پـه رنګ سپيـن او تـور مـوجـود دے
دا پـه هـر يـو لَـور مـوجـود دے
بـرګ رنـګـدار شتـه نسـواری
سـاتـل غـواړی ئـي خـواری

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ انسان ښۀ وفادار دے
کۀ خوک غواړې ډېر دَ کار دے
ډېر دَ قدر خناور دے
په صورت ښۀ برابر دے
دَ کورونو دا سینګار دے
تل په جنګ کښې مددګار دے
دا سورلی دَ پیغمبر ﷺ وه
دَ اصحابوؓ دَ سفر وه
دومره بس ئې فضیلت دے
اے احمده! حقیقت دے

..................................

## دَ ځناورو مختلف قسمونه

کار کوُنکے غوئے نروی
خامخا ئې سر کښې ښکروی
هوسے منده کښې تکړه وی
کله کله په مزه وی
هریو مړه وی چالاکه
خو پلیته وی ناپاکه

په پښتو کښې عاجزي وي
مثالي ئې خپلولي وي

ځناور نور رنګ په رنګ شته
ځنې چيت شته ، ځنې دنګ شته

ځناور دا دُنيا دي
طبعيتونه ئې جدا دي

بعض زمونږ سره اُوسيږي
له انسان ځنې يريږي

څه په خوئې خصلت خائسته دي
څه انسان لره خطره دي

ځنې تاته نزدې کيږي
ځنې ستانه لرې کيږي

څۀ اُوسيږي په ځنګل کښې
پټ پټ غرونو په غارخپل کښې

څۀ دَ کور ميدان کښې اُوسي
څۀ بهر جهان کښې اُوسي

دوی کړی خپلو کښې خبرے
کۀ نزدې وی کۀ دوی لرے

دوی به سبق هلته کښې وائی
ادب به هلته ورته ښائی
یو ځائې ورسره محلې نه خپل خپلوان ځی
ښکلې ښکلی اسکول ته چې دغه ماشومان ځی
د دوی ملګرې به کتاب وی
احمده! بیا به دوی کامیاب وی
په دُعاګانو دَ مور پلار چې په جهان ځی
ښکلې ښکلی اسکول ته چې دغه ماشومان ځی

.............................................

## جهنډا دَ پاکستان

مستطیل شکل دَ کور
پاس ختلې په هر لَور
دوه حصې ښه پوره شنې
سپینه یو حصه په کښې
درې حصې شولې دَ کور
یو سپوږمې ستورې بل نور
دا جهنډا دَ پاکستان ده
دا جهنډا دَ مسلمان ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لړ څه ئې خوب ختمیږی
داسې وی بیدار زمري

له مخلوق نه یو طرف
کور لرونکې غار زمري

چې ترڅو دې اوږې نۀ وی
نه کوی ګوزار زمري

بل په دۀ چې کړی حمله
هله دے خونخوار زمري

دې دَ بل نۀ خوری جوټه
پخپله کړی ښکار زمري

په قوت ئې خپل منی
منی ټول اغیار زمري

صحت مند نه هم کړه یره
ده خطره بیمار زمري

خر په رُعب بې مثال
دَ ځنګل دَ ښار زمري

دا مخلوق دَ پاك اللّه
حسین ، رُعبدار زمري

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا امیر الدین قدوائی
وېزائن کړي خلق وائی
نور رښا مقصد دَ ستوری
چې جهنډې ته خلق ګوری
علامت دَ ترقي دے
دا نشان چې دَ سپوږمې دے
په تعداد دَ مسلمان
رنګ ګواه شین دَ جهان
په تعدا دَ اقلیت
رنګ ګواه سپین هر ساعت
دا احمده! یو کپړا ده
دَ تاریخ یوه حصه ده

.....................................

## زمري

ټول منی مردار زمري
بیا هم دے سردار زمري
دا بې تاجه چې باچا دے
ځناور هوښیار زمري

کندو شارو کښې اُوسیږی
آبادي نه لري کیږی

هیڅ ئې چاته نه وی پته
کیدر تل وی بې همته

دوه کړی خپلې دوه پردي کړی
څه حالت بیا دَ لکې کړی

دَ سپی غپ سره شی خکته
یرونکې له آفته

دَ چرګانو دغه غل دے
هره شپه ئې په تکل دے

دي هرچا ته ملامته
یرونکې له آفته

سَم په دهٔ باندي قیامت وی
چې په دهٔ څه مصیبت وی

نه دے خر چې درکړی لته
یرونکې له آفته

ددهٔ غوښه دے خوراك
په وجود دے تهول ناپاك

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما احمد لیدلے دے
قیدی ګرفتار زمري

........................................

## ګیدړ

ګیدړ تل وی بې همته
یرونکې له آفته

په پټو کښې دې پټیږی
دې له سپو نه ډیریږی
ډیر له دوی نه بې عزته
یرونکې له آفته

په دهٔ غپ چې کله سپے کړی
نو بیا ختمې دې نخرے کړی
سپې خبرئې وی له نیته
یرونکې له آفته

دَ انسان له سیوری تختی
چې انسان ته ګوری تختی
وی خبر له عاقبته
یرونکې له آفته

امداد ورسره اُوکړۀ ددُنیا په هرقدم
امداد ورسره اُکړۀ خامخا په دې عالَم
مابښام ورله صدقه ورکړۀ ، صدقه ورکړۀ سحر کښې
زمونږ نه چې هیر نشی دا غریب په لراوبر کښې

څه لږ شان خو به کم شی ورسره ئې مشکلات
څه لږ شان خو به ښه شی ورسره ئې معاملات
مدام ساته هم داسې خلق دلته په نظر کښې
زمونږ نه چې هیر نشی دا غریب په لراوبر کښې

ډیر ډیر ئې خیال ساته چې تل دُعا درته کوی
په سجده په اخلاص سره چې تا تل یادوی
که تاسره ملګری داسې خلق شی سفر کښې
زمونږ نه چې هیر نشی دا غریب په لراوبر کښې

که چا سره کوی دې مزدوری نو ورله ورشه
ملګرې ئې احمده ! په سخت کار کښې برابر شه
ورسره تل امداد اُوکړه په لَو کښې هم په کَر کښې
زمونږ نه چې هیر نشی دا غریب په لراوبر کښې

.....................................

...................

# دَ مسلمان دَ میوې دُکان

دا میوې چې رنګ په رنګ دی
په قطار کښې څنګ په څنګ دی
یو طرف ته دی امونه
مناسب ئې قیمتونه
داجامن دا الوچې دی
دا مالټې دی ناشپاتې دی
په قطار کښې امروتان وی
دا کینوان دی دا سیوان دی
رازونړندې پاس کیلې دی
غټې غټې خربوزې دی
خټکی شته هندوانې شته
هم لوکاټ شته پپیتې شته
اسټرابیری شته هم چیکوان دی
دا زقم دی، دا لیمبان دی
کریټ پروت هم دَ میټو دے
دا په څنګ کښې دَلیچو دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



تور او شنه خواږه انګور دي
کوالټي کښې ښهٔ ضرور دي
ورسره په څنګ انار دي
ډېر خواږه دي مزیدار دي
اناس شته، انځیران دي
دا میوې ددې دُکان دي
په قیمت تهولې ارزانې
نه خرڅیږي په تاکرانې
دا دُکان دَ مسلمان دے
مینه ناك دے مهربان دے
ښهٔ اخلاق ئې، ښهٔ ګفتار ئې
ښه صورت ئې، ښهٔ کردار ئې
څکه رش ورته مدام وي
په قطار کښې خاص او عام وي
تل په لږ څه دې راضي دے
تل په لږ ښهٔ دې راضي دے
دا اُصول دَ دُکاندار دي
دا اُصول هر خوا پکار دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



درته وایم بار بار
راواله دي اسکول ته پلار

کور کښې تا کاپي پرېښې
بیا تا ریاضي پرېښې

تانه تنګ دے څوکیدار
راواله دي اسکول ته پلار

ماشومان ټول ستانه تنګ
تا سره مدام په جنګ

نهٔ شوې دوی نه تهٔ قلار
راواله دي اسکول ته پلار

نهٔ په سر ټوپي ساتې
نه کتاب کاپي ساتې

شر نه نه شوې تهٔ اوزګار
راواله دي اسکول ته پلار

نه اورې خبرې ته
ناست ئې کلاس کښې لرې ته

خلې له ورکوې نه وار
راواله دي اسکول ته پلار

کلاس کښې کوے شور مدام
تانه تنګ دی خاص او عوام
منډې وهے تهٔ په لار
راواله دې اسکول ته پلار
شابه دا احمد وائی
تاته چې سبق ښائی
کار درباندې سم وی بار
راواله دې اسکول ته پلار

.........................................

## اسکول ته راځه

تیار بیا اسکول ته راځه
ښه صفا اسکول ته راځه
دَ بابا پخوانې اسکول
ښه اعلا پخوانې اسکول
دې اعلا اسکول ته راځه
ښه صفا اسکول ته راځه
دا کاکا دلته اُستاذ
ستا ماما دلته استاذ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ ماما اسکول ته راځه
ښه صفا اسکول ته راځه
بسته واخله شابه زر
قلم واخله هم شارپنر
ښه رښا اسکول ته راځه
ښه صفا اسکول ته راځه
ښۀ په شوق او محبت
واخله مور نه اجازت
په دُعا اسکول ته راځه
ښه صفا اسکول ته راځه
یونیفام ښه برابر
داټوپي دي کړه په سر
دَ لالا اسکول ته راځه
ښه صفا اسکول ته راځه
دَ احمد ریښتیا بیان
په کښي غټ ښکلي میدان
په خندا اسکول ته راځه
ښه صفا اسکول ته راځه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر یو لوبه کښې صحت وی
په خپل مینځ کښې محبت وی
دَ پښتون کلچر حصه ده
هر یو لوبه کښې مزه ده
دا پښتون کلچر زما دے
ستا احمده! دَ بابا دے

........................................

## اسکول ته ماشومان ځی .......نظم

زمونږ دَ کلی محلې نه داګلان ځی
ښکلې ښکلی اسکول ته چې دغه ماشومان ځی
بسته په لاس کښې ددوی ټولو
ډله روانه دَ همځولو
دَ مستقبل ټول رڼا ستوری دَ اسمان ځی
ښکلې ښکلی اسکول ته چې دغه ماشومان ځی
دَ مور او پلار دَ زړه ټکور
هر یو دَ سترګو دَ دوی تور
څومره مزه کوی یو ځائې چې دوی روان ځی
ښکلې ښکلی اسکول ته چې دغه ماشومان ځی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دَ ماشومانو لوبې

ډېري لوبې دَ میدان دي
دا یو ځائې چې ماشومان دي

هر ماشوم په دې خوشحاله
نزدې ورنشي ته خواله

کۀ مُخه ده ، کۀ کوږه ده
لوبه هریو عجیبه ده

کبډی دَ هلکانو
لوبه دغه دَ ځوانانو

پټ پټونې لوبه ښکلې
پټ وي هریو په کښې غلې

دا چې کرښې دي چیندرو ده
لوبه دا دَ جینکو ده

هلکان کوي شل غاتی
جینکې کوي میرکاتی

دا غوږي لوبه هرخواته
شرنګ لختې لوبه هرخواته

د دوی ژبه ده بدله
دوی پو هیړی په دے خپله
اے احمده ! خلاصه دا ده
دا دُنیا مونږ نه جُدا ده

....................................

## داجی راغے زما موري ....... نظم

داجی راغے زما موري
تاکتلو ، ته ئي کوري
راغے موري له بازار نه
زما خیال دے چي له ښار نه
ستړي ستړي ډیر کمزوري
داجی راغے زما موري
ماله راوړے ئي تختي ده
ماله راوړے ئي ټوپي ده
شته پیسي ورسره نوري
داجی راغے زما موري
دا بسته مي داجي راوړے
دا تحفه مي داجي راوړے

ضروری ئي مونږ له سيوري
داجي راغي زما موري

دغه ستا دی څه زما دی
څه چي لاس کښي دَ بابا دی

واوره اے جميلي خوري
داجي راغي زما موري

يو مي خور ده يو مي ورور دے
ورسره ښکلي دا کور دے

په ما ګران دی په زړه پوري
داجي راغي زما موري

دا زما ټوله دُنيا ده
دَ احمد ښکلي وينا ده

قدردان دے ستا هر توري
داجي راغي زما موري

.................................

## پکنك دَ خاندان سره ...... نظم

موري موري بابا راغے
راغے راغے دادا راغے

څو به تول پکنك دَ پاره
تول څو مونږ بهر له ښاره
راغے راغے ماما راغے
موري موري بابا راغے

دَ پخلی سامان راواخله
پیاز او الوګان راواخله
ستهارت شو ګاډي کاکا راغے
موري موري بابا راغے

چائے لره چینی راواخله
پتیله، دیګچی راواخله
مروه راغله، صفا راغے
موري موري بابا راغے

دا چاره چاقو راواخله
شابه زرکړۀ څو، راواخله
احمد راغے چاچا راغے
موري موري بابا راغے

..................................

..................

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دَ بابا موټر................. نظم

هغه دے دَ چا موټر
دا مې دَ بابا موټر

دي کښې به چکر له ځو
سيل له پېښور له ځو

ښه زوړ دَ دادا موټر
دا مې دَ بابا موټر

زر مې کړه تيار موري
راکړه دا پيزار موري

راغے جوړ زما موټر
دا مې دَ بابا موټر

موري ښه تادي اُوکړه
وخت دے خوشحالي اُوکړه

هارن وهي بيا موټر
دا مې دَ بابا موټر

دا په انتظار زمونږ
دوست دے ښه دَ کار زمونږ

ناشر۔ اسلامی ادبی ټولنه مردان 0312-9818511

(c) ketabton.com: The Digital Library



تول دَ خپل وخت ښه پابند دي
موسمونه دَ دې ژوند دي
سَم دَ خپل وخت دښمنان دي
يو دَ بل نه بېل روان دي
دَ هر يو خپل خاصيت دے
بېل جدا ئې فضيلت دے
دوه شته نور هم موسمونه
ياد ساته ئې تل نومونه
يو يخني بله ګرمي ده
بېله بېله زندګي ده
جمع کيږي نه دوی کله
دښمنان دي له ازله
په ګرمي کښې يخني نه وي
په يخني کښې ګرمي نه وي
دَ يو بل نه بېل روان دي
په ترتيب تول په جهان دي
قدرتونه دَ مولا دي
موسمونه ښه اعلا دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



لږه ګټه کښې برکت وی
لږه ګټه کښې عزت وی
دا بُنیاد دَ تجارت دے
دا احمد دا نصیحت دے

.....................................

## راوله دې اسکول ته پلار

نۀ کوے دَ اسکول ته کار
راواله دې اسکول ته پلار
تا دَ بل بسته وړے
تا ولې چُټې کړے
هسې وائے ووم بیمار
راواله دې اسکول ته پلار
نه درله لیکل درځی
نه درله لوستل درځی
پرېښے تا دے کور کښې کار
راواله دې اسکول ته پلار
تا سره قلم نه وی
هیڅ درسره غم نه وی

سپین رنګ کښې تهول دا موټر

دا مې دَ بابا موټر

نوي ئې ټیرونه تهول

نوی ئې سیټونه تهول

ښه پوره اشنا موټر

دا مې دَ بابا موټر

واخله ضروری سامان

احمده! تیار کړه ځان

سټارټ کړه جوړ کا موټر

دا مې دَ بابا موټر

..............................

## راغے بابا راغے ریل ........... نظم

راغے بابا راغے ریل

ځو مونږ تا سره په سیل

دا ریلوے استیشن اډه

اودیږی به ریل دلته

ځو دادا سره په سیل

راغے بابا راغے ریل

اُودریدو انجن اول
ما ورته په غور کتل
څو ماما سره په سیل
راغے بابا راغے ریل

جوړ دي دَ ډبو قطار
روان دَ پټړي په لار
څو لالا سره په سیل
راغے بابا راغے ریل

ټک ټک ئې آواز کوُو
ما چې لري دي لیدو
څو نانا سره په سیل
راغے بابا راغے ریل

سَم لکه یو کور ډبه
ښکلي په هر لور ډبه
څو کاکا سره په سیل
راغے بابا راغے ریل

زۀ احمد تیار ولاړ
ټکټ ته په قطار ولاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



څــــی تهـــول مــــــا ســــره پــــــه سیــــل
راغــــــے بــــــــابــــــــا راغــــــے ریـــــل

................................

## راغـــے استاپ ته اُودید بس .......... نظم

راغــــــے استهــــــاپ تــــــه ، اُودریـــد بـــــــس
ورتــــــــه ورخیـــــــږی هـــــریـــــوکــــــــــس
څـــــنــــــی غـــــم لـــــره ښـــــادي لــــــــه
څـــــنـــــی څــــــی اُوس نـــوکـــــري لـــــــه
څـــــنـــــي څــــــی دوکــــــانــــداري لـــــــه
څـــــــی دا خــــــلـــــق مـــــزدوري لـــــــه
راغـــــی بـــــل بـــــــه ډیـــــر وخـــــت پـــــس
راغــــــے استهــــــاپ تــــــه اُودریـــد بـــــــس
نــــــاســـــت پـــــــه کښــــــي دی مشـــــران
ولاړ تهــــــــــــــــول دی کشـــــــــــــــــــران
دَ سیـــــــټ لانــــــدي وی ســــــامــــــــان
بیـــــــــا پـــــــــــه لار وی تیــــــــز روان
ســــــم روان لـــــــــکــــــــــــــــه دَ آس
راغــــــے استهــــــاپ تــــــه اُودریـــد بـــــــس

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسپنه مضبوط بنه تن ئي
ځائي د اودریدو استیشن ئي
سم صورت امیل راغے
راغے راغے ریل راغے

ځو به پیښور ته په کښې
کراچي ، لاهور ته په کښې
پینډي ته ، سکهر ته په کښې
ځو مونږه چکر ته په کښې
سټارټ انجن په تیل راغے
راغے راغے ریل راغے

کار دده سامان وړل دي
دا ټول انسان وړل دي
دغه کشران وړل دي
دا ټول مشران وړل دي
په پټړي په ګیل راغے
راغے راغے ریل راغے

ډیر زیات سهولت په دي دے
پوره هر حاجت په دي دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

بوج دَ تجارت په دي دے
کم څه لږ محنت په دي دے
په جوټو په ټیل راغے
راغے راغے ریل راغے
لنډي فاصلی ورسره
نږدي ښارئي ورسره
نږدي شوي رشتي ورسره
احمد دي نږدي ورسره
په چغو په ذَیل راغے
راغے راغے ریل راغے

..............................

ربنا تقبل منا انك انت السميع العليم
وتب علينا انك انت التواب الرحيم
وماتوفيقي الا بالله ...... وصلى الله تعالىٰ
علىٰ خير خلقهٖ محمد واٰله واصحابه
اجمعين . يا ربّ العالمين.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شــــه خبــــر ئـــې لـــــه صـــورتـــــه
يــــــرونـــکـــــې لـــــــه آفتـــــــــه
چــــا ليـــدلـــے چـــې پـــــه تيـــختـــــه
مــــا ليـــدلـــے چـــې پـــــه تيـــختـــــه
تـــختـــــی تيــــز لــــــه ډيـــر هيبتـــــه
يــــــرونـــکـــــې لـــــــه آفتـــــــــه
ډيــــر پــــــه مـــکـــر کـــوی ښــکـــاردي
اے احـــــمـــــده ! ډيـــــرمـــکـــــاردي
ځـــــــان اُوبـــــاســــی ســـلامتــــــه
يــــــرونـــکـــــې لـــــــه آفتـــــــــه

.............................................

## اُوښ

اُوښ دَ صبـــــر نـــمــــونـــــــه ده
دنـــګـــــــه ، لــــوړه ئـــې جُســـــه ده
دَ صــحــــــرا دَ شـــکـــو جهـــــاز دے
عــــــــجيبــــــــــــــــه دَ دهٔ آواز دے
غـــنـــم رنـــګـــې غـــلـــې غــلـــې
ســـم پــــــه تـــن ئـــې جـــوړ دے ځـــلـــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه يو ستاپ راغے بل
منتظر دَ استاپ يم خپل
خوند شيشو کښې کړی کتل
دا بهر منظر ليدل
کرايه ئې روپې لس
راغے استاپ ته اُودريد بس
دا زمونږ دَ ګانډی
په دي کوی مزدوی
دوست زما دَ باباجی
ستا احمده! خيال کوی
نه ډرائيور سره په ترس
راغے استاپ ته راغے بس

..............................

## راغے راغے ريل راغے............ نظم

راغے راغے ريل راغے
ريل ګاډي دَ سيل راغے
تيزه چغه ، تيز هرن ئې
اُوږ دَ سَم دَ مار بدن ئې

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**